



## خان عبدالغفار خان(پاچا خان):

خان عبدالغفار خان د شلمې پېړۍ ستر مبارز او د نه تاوتریخوالي (عدم تشدد) د فلسفې علمبرداره سیاسي شخصیت وو، چې په څو نامتو نومونو لکه: فخر افغان، پاچا خان، بادشاه خان او د سرحد ګاندي په نومونو يادېږي. خان عبدالغفارخان پر (۱۸۹۰)زېږدیز کال د پېښور د «هشتنغر» سیمې د «اتمانزو» په کلي کې د «خان بهرام خان محمدزي» په کور کې زېږېدلی دی. د خان عبدالغفار خان کورنۍ د خپلې سیمې خانان او د زياتو ځمکو او جايدادونو خاوندان ول. خان عبدالغفار خان خپلې زده کړې د خپل کلي په ښوونځي او لوړې زده کړې د «علیګړ» په دارالعلوم کې تر سره کړې دي. د زده کړو پای ته رسولو وروسته خپلې سیمې ته راستون شو. خان عبدالغفارخان پر (۱۹۲۱)ز کال کې د خلکو د یووالي او ناسمو دودونو د ورکولو او د سم او سالم سیاسي شعور د ویښولو په موخه يې د (انجمن اصلاح الافاغنه) په نوم ټولنه جوړه کړه او د نه تاوتریخوالي(عدم تشدد) پر بنسټ يې سیاسي او ټولنیز فعالیت پیل کړ. وروسته يې بیا یاده  ټولنه د (خدایي خدمتګارانو غورځنګ) په نوم په ګوند بدله کړه او د خپلو فعالیتونو لمن يې ورسره پراخه کړه. پاچا خان د خپل ولس د راویښولو په موخه کور په کور او کلي په کلي وګرځید او خلک يې د ناپوهۍ او انګرېزانو پر وړاندې مبارزې ته وهڅول. پاچاخان په پښتنو کې شعوري بدلون راوست، یانې په خپله يې هغه کارونو ته ملا وتړله، چې د غلیمانو له لوري د پښتون ولس د تېر اېستنې او غولونې لپاره کارېدل. د خان عبدالغفار خان نوم

نن نه یوازې په سیمه ایزه بلکې په نړیواله کچه د ډیرو سوله دوستو او سوله خوښوونکو اړخونو، پرګنو، علمي کړیو، پوهنیزو او څیړنیزو مرکزونو او مبارزو شخصیتونو په مجلسونو کې یادیږي او نوموړی د یوه سولییز مبارز شخصیت په توګه پیژني. همدارنګه د خان عبدالغفارخان مبارزه چې له تاوتریخوالي څخه په ډه ډه کولو یا د عدم تشدد پر بنسټ ولاړه وه، نن د ډیرو مبارزو وګړو خوښیږي او روانو غورځنګونو ته د خپلو حقوقو د لاسته راوړلو په موخه د خان عبدالغفارخان او مهاتما ګاندي په څیر د مبارزې وړاندیز کوي څو سیمه، نړی او د نړی وګړي د ترهګری، وژنو، وینې تویولو او تاوتریخوالي له خونړیو څپو څخه و ژغورل شي. پاچا خان یو له هغو نومیالیو مشرانو او د پښتون ټبر له ویاړونو څخه دی چې نه یوازې د درانه او پتمنو پښتنو له خوا نازول شوی دی خو تر څنګ یې د نورو قومونو او ټولنو له لوري هم د ویاړ لقبونه ورکړل شوې دي. پاچا خان او مهماتا ګاندي ډېر نږدې ملګري او دوستان ول، چې روحاني ورونه بلل کېدل او هغوی تل اوږه په اوږه ګډ کار کړی دی. پاچا خان د سیمې داسې سیاستوال وو، چې د ازادۍ غوښتنې تحریک یې د هند په لوی سیاسي بهیر ورګډ کړ. له همدې امله نه یوازې دا چې پاچا خان د هند په ښوونیز نصاب کې خپل ځای لري، بلکې ځوانان هم ورته په درنه سترګه ګوري. خان عبدالغفارخان د هندوستان له وېش او د پاکستان له رامنځته کېدو وروسته د ازاد پښتونستان لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې. پاچا خان د خپلې دغې مبارزې په ترڅ کې د انګریزانو او بیا د پاکستان حکومت له لوري زندانونه او بندیخانې او راز راز شکنجې لیدلي او زغملي دي. نوموړي هر ډول شکنجو ته سینه سپر کړه، خو د پښتنو د ګټو پر سر یې له هیڅ چا سره معامله ونه کړه. پاچا خان خپلو کارکونکو ته سور رنګ غوره کړ او هماغه وُ، چې د خدایي خدمتګارانو غورځنګ غړي په سرخ پوشانو باندې نامتو شول. د دوی موخه ازادي او انګیزه یې چوپړ او خدمت وُ. له دې غورځنګ بله موخه پښتنو ته د صنعت، اقتصاد او په خپل ځان تکیه کولو لوست او درس ورکول او دا لوست او درس یې د شرافت، نفس او له خدای څخه د وېرې د تلقین کولو له لارې پښتنو ته ورکاوه. خان عبدالغفار خان د جنرال ضیاءالحق د حکومت په پېر او دوره کې سختې ورځې او شپې تیرولې څو ناروغه شو او د شپږو میاشتو د کوما د حالت ورپېښیدلو او د مغز فلجیدولو وروسته پر( ۱۳٦٦ ش) کال د سلواغې په لومړی نېټه د چهارشنبې د سهار په څلورو بجو او په پنځه څلویښت دقیقو د پیښور په «لیډي ریډنګ روغتون» کې مړ شو او جنازه یې د وصیت سره سم د جمعې په ورځ پر( ۱۳٦٦ ش)کال د سلواغې په دریمه پر( ۱۹۸۹ م) کال د جنورۍ میاشتې په شلمه په ډیره درناوۍ سره د ننګرهار په مرکز جلال آباد کې خاورو ته وسپارل شوه.

**دا هم د خان عبدالغفار خان(پاچا خان) ګټورې او غوره خبرې او ویناوې:**

- انسان چې انسان وي، څومره همدرد وي او چې انسانیت ترې لاړ شي نو بیا څومره بې رحمه شي.

- د کوم قوم ښځې چې بیدارې شي او د ملک د ازادۍ لپاره ملا وتړي، نو هغه قوم څوک غلام ساتلی نه شي او هغه قوم به ډېر زر خپل منزل ته ورسېږي.

- په مذهب خبرې کول، تقریرونه کول او فضایل بیانول اسانه کار دی، هر څوک یې کولی شي، خو په مذهب عمل کول او هغه هم لومړی له ځانه شروع کول ډېر گران دی.

- غم او فکر هغه چا سره وي، چې د ځان لپاره کار کوي او څوک چې د خدای لپاره کار کوي، هغوی هیڅ غم او فکر نه کوي.

- چې کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شي، نو هغه  قوم سپک شي.

- رښتیا خبره دا ده، چې ظالمان بهادران نه وي، ډېر بزدله او بې ایمانه وي، بهادر سړی هېڅېرې په چا ظلم نه کوي.

- که یو نه شو، ورک به شو.

- عمل وکړئ او همدا اوس عمل وکړئ.

- د هر سړي عزت په خپل لاس کې دی او که هر سړی خپل خواهشات او اړتیاوې قابو کړي، نو همیشه به ارامه، خوشحاله او عزتمند وي.

- انقلاب سیلاب دی او همیشه ویده قومونه وړي او ویښ آبادوي، تاسو ویښ شئ منظم شئ او انقلاب نه گټه واخلئ.

- د کوم قوم مشران چې زړور وي هغه قوم کې هم زړورتیا پېدا شي او چې د کوم قوم مشران بزدله وي، هغه قوم کې بزدلي پېدا شي.

- ژوندي قومونه د خپلو ژوندیو شخصیتونو درناوی کوي او وروسته پاتې قومونه د مړو.

- خدای(ج) دې پښتون ته د بدۍ وس نه ورکوي او چې وس ومومي، لکه د لړم د بچو خپله مور خوري.

- پښتون یو ژوندی قوم دی، د قومیت او قربانۍ ماده په کې شته، خو راویښول غواړي.

- سوله او یووالی ډېر لازمي دي، ځکه که موږ متحد وو وبه درېږو، که ووېشل شو وبه غورځو او په یووالي کې مو قوت پروت دی.

- تاسې به تر هغې پرمختگ ونه کړئ، چې د وخت له بدلون سره خپل ځانونه بدل نه کړئ.

***

**په درنښت او ادبي مینه: انجنیر عبدالقادر مسعود**